

# د جنګي ملایانو (طالبانو) راتګ
## او د افغانستان دولت رنګیدل

د ۱۴۰۰ زمري ۲۴مه نېټه



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جنګي ملايانو (طالبانو) راتګ

## او د افغانستان دولت ړنګيدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرلیک:** د جنګي ملایانو (طالبانو) راتګ او د افغانستان دولت ړنګیدل

**لیکونکی:** ع ر ص ن

**ترتیبونکی:** ارسلان همت

**پښتی ډیزاین:** ع ر ص ن

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د جنګي ملایانو (طالبانو) راتګ او د افغانستان دولت ړنګیدل:

طالبان د ۱۴۰۰ لمریز کال د زمري میاشتې په ۲۴مه نیټه د ۲۰۲۱ میلادي کال اګسټ میاشتې ۱۵مې نیټې سره سم کابل ته د دویم ځل لپاره را ننوتل، او له دې



نیټې پنځه ورځې مخکې یې د افغانستان نور نږدې ټول (۳۲ ولایتونه) یې بې له کومې جګړې نیولي وو. د افغانستان اسلامي جمهوریت ( د ډاکټر اشرف غني دولت ) نږدې (۳۵۰،۰۰۰) درې سوه پنځوس زره بشري یا انساني ځواکونو سره، نږدې ۲۵۰ الوتکو سره، زرګونو زرهي ټانګونو او موټرونو سره بې له مخ نیوي او مقابلې یې هر څه طالبانو ته وسپارل. یواځې په یوې اوونۍ کې د ډاکټر اشرف غني دولت هر څه را ټول شول. ډاکټر اشرف غني چې په خپله او د هغه پلویانو (طرفدارانو) به د افغانستان د قدر وړ او نوم لرونکو شاهانو او مشرانو لکه د احمد شاه بابا، غازي امان الله خان، سردار محمد داود خان او ډاکټر نجیب سره پرتله کاوه، د نړۍ ځینې هیوادونو او خلکو د نړۍ دویم متفکر مغز او نابغه ګاڼه؛ له بده مرغه د افغانستان خلک (ملت) یې په ناورین او بحراني حالت کې یوازې پرېښودل او د ځان د ډېر ګرانښت له امله وتښتېده. اوس ورپسې داسې هم ویل کیږي چې ۴۵ میلیونه ډالر یې هم په درې موټرو کې له ځان سره وړل خو ترې پاتې دي. ډاکټر اشرف غني او د دولت غړیو یې لکه امرالله صالح، حمدالله محب، دوستم او عطا محمد او ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو به په ډېرې جذبې او جوش سره په رسنيو کې ويلې چې مونږ به د سر او ځان په قربانۍ سره د هيواد او وطن څخه ساتنه کوو، خو دا ټولې خبرې يې هسې تشې خبرې وې په عمل کې هيڅ وو. ډاکټر اشرف غني او د دولت نورو غړيو يې د خپلې تېښتې سره د افغانستان خلکو او خپلو پلويانو (طرفدارانو سره) جفا او خيانت وکړ؛ ځکه د دوی هيواد پالنه، صداقت، ريښتينولي، د هيواد سره مينه او نور ټول شيان يې دروغ وو او يوازې تشې خبرې وې. د



عبدالله عبدالله په څير ډارن او حامد کرزي په څير مداري او نورې ډيرې خائنې سياسي څيرې چې د افغانستان خلکو په حق کې هغوی هم ډېر خيانتونه او جفاګانې کړي دي پاتې دي دوی ته هم پکار نه وه چې افغانستان پرېږدي او وتېښتي. د هيواد مشر بايد په داسې ناورين او بحراني حالت کې د خلکو سره وای او خلک يې بايد يوازې نه وای پرېښې. د آمريکا دولت او ناټو به هم ډيرې لاپې او دباپې وهلې چې مونږ د افغانستان نظامي ځواک او اوردو جوړه کړې ده هغه هم ريښتيا نه وو دا هم د يوې مرغۍ د ځالې په څير و چې يو ګړندی شمال (باد) راغی هر څه يې له مينځه ويوړل. آمريکا او د ناټو ټرون هيوادونو دوه لسيزې په افغانستان کې تيرې کړې، دوی هم د افغانستان په خلکو (ملت) يې ظلمونه وکړل، کومې موخې يې چې درلودې هغه يې تعقيب کړې دا چې ورته ورسيدل که نه! مالومه نده خو سياسي جوړښتونه په منطقه کې بدل شول دوی لومړی وتښتيدل او بيا د دوی تر سيوري لاندې چې د ډاکټر اشرف غني دولت او ټيم يې وو هغه هم له مينځه لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس جنګي ملایان (طالبان) د دویم ځل لپاره واک ته ورسیدل، د افغانستان خلکو (ملت) ته به په وخت سره مالومه شي چې دوی څه کوي؟ د جنګي ملایانو (طالبانو) له ۱۹۹۶م کال - ۲۰۰۱م کال پورې یې په افغانستان کې د حکومت لومړنۍ دوره وه. په لومړنۍ دوره کې د طالبانو ځان ځانې حکومت وو هیڅوک پکې شامل نه وو. او یوازې دوو هیوادونو یو پاکستان چې په هغه وخت کې د دوی مربیان او ښوونکي ؤ او ورسره سعودي عربستان د طالبانو حکومت او واکمني یې په رسمیت پیژنده. د طالبانو په لومړنۍ دوره کې او د هغه نه مخکې افغانستان د بیلابیلو جنګونو له امله په خړو خاورو او کنوالو بدل شوی ؤ، او د افغانستان ډیری خلک نورو هیوادونو



ته مهاجر او مسافر شؤ په خاصه توګه پاکستان او ایران ته مهاجر شؤ هغوی هلته سخت ژوند تیراوه او پاتې لږو افغانانو په افغانستان کې د نه د طالبانو د واکمنۍ لاندې په فقر، بیکارۍ، غریبۍ، بدبختۍ او کړاوونو کې ژوند یې تیراوه. د طالبانو د لومړۍ دورې په پای کې افغانستان یو ویجاړ هیواد پاتې وو. لدې څخه سترګې نشو پټولای چې په ورستیو دوه لسیزو کې د حامد کرزي او ډاکټر اشرف غني په دورو کې په افغانستان کې کم یا زیات پرمختګونه هم شوي دي د مثال په توګه لویې لارې او سړکونه جوړ شوي دي لږ تر لږه د افغانستان د ولایتونو په لویو لارو کې او په پلازمینې کابل کې، بانکي سیستم مینځ ته راغلی، ګمرکي سیستم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته له فسادونو نه یې که په نظر کې ونیسو، د دولتي ادارو د معاشاتو د وېش سیستم، د تقاعد سیستم، خصوصي سکټور، دولتي سکټور، خلکو ته د کاروبار د جوازونو سیستم، د نورو هیوادونو سره سوداګریزې تعلیمی او تحصیلي اړیکي، معارف او لوړو زده کړو سیستم او نور په لسګونه سیستمونه او په ټوله کې یو نظام جوړ شوی دی. چې دا د یادونې وړ دي.

طالبان اوس چې دویم ځل لپاره واک ته رسیدلي دي، د دوی د لومړنۍ دورې تصویر(عکس)، چاودنې، انتحاري بریدونه، د لارو نیونه، د خلکو ښکته کول د



موټرونو نه د ولایتونو په لارو کې، تعرضي او چیریکي بریدونه په ولسوالیو کې او په اوردو ځواکونو بریدونه د خلکو په ذهن کې ځای لري نو ځکه د پلازمینې کابل او ټول افغانستان خلک ډېر د طالبانو له راتګ څخه او اوس چې دلته دي په وېره کې دي او ډېر ډار شوي دي. د طالبانو د راتګ سره یو شمیر خلکو خپل رنګ ته بدلون ورکړی د خلکو د ډار او ویرې لامل کیږي په خپلو سترګو مې ولیدل چې یو ځایې اوسیدونکي ځان او جامه یې د طالبانو په څیر کړې وه او د تګ راتګ په یوې لاره کې ولاړ ؤ یو شمیر سمې په حجاب برابرې میرمنې (ښځې) په دې لارې تللې خو دا کس یې چې ولید ډیرې وډارې شوې او ودریدلې او نه تللې بیا یو بل خیرغوښتونکي کس دې ځایي اوسیدونکی ته وویل داسې مه کوه د خلکو د ویرې لامل مه کیږه او هغو میرمنو (ښځو) ته یې وویل لاړې شئ هیڅ کومه خبره نشته دا ځایي کس دی. په ځنګلونو کې یو شمیر ژویي یا خزندګان دي چې خپل رنګ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شين چاپيريال کې شين ته بدلوي او په خړ او خاورين چاپيريال کې خپل رنګ خړ يا خاورين ته بدلوي. ځان د هغو رنګ بدلونکو خزندګانو په څېر مه کوئ. هيله ده دا خلک دې ته پام وکړي د خلکو د ځورولو او زحمت لامل نشي. د روحي او رواني نظره د افغانستان ټول خلک ډېر ناسم وضعيت کې دي ځکه ټولو خلکو خپل کارونه يې له لاسه ورکړي دي، په زرګونو، لکونو او ميليونونو افغانۍ او ډالر د ډېرو خلکو خپلې پيسې په بانکونو کې يې چې اچولې وې هغه پاتې دي او د نامعلومې آيندې په تمه دي چې څه به وشي؟ دولتي او خصوصي سکټور، بانک والي يا بانک داري، سوداګريزې راکړې ورکړې، تګ را تګ ولايتونو او بهرنيي هيوادونو ته، د عامه خدمتونو کارونه لکه د تذکرو وېش او د پاسپورټ وېش او نور په سلګونه کارونه په ټپه ولاړ دي. طالبانو ته روغ رمټ سيسټم او نظام پاتې ده، نظامي او ملکي ټول شيان او ارګ او پاچايي هم ورته پاتې ده. د الله (ج) څخه لومړی بايد دوی شکرګذاره او منندوی واوسي او دې شيانو ته د غنيمت په سترګه ونه ګورې دا ټول د بيت المال او د خلکو مال دی بايد ترې ضايع نشي او ضايع يې نکړي. طالبانو چې پلازمينی کابل او ټول ولايتونه نيولي دي په جنګ کې يې ندي نيولي، نظامي او ملکي کسانو ورسره جنګ ندی کړی. د افغانستان خلک خدای مه کړه غيرمسلمانان (کافران) ندي چې دوی وايي کابل مو فتحه کړ يا ټول ولايتونه مو فتحه کړل يا افغانستان مو فتحه کړ او ټول خلک معاف دي او عامه معافيت دی د ټولو لپاره. که افغانستان خپل هيواد ګڼي نو خپل هيواد نه فتحه کيږي. دا الفاظ او کليمې ناسمې دي هيله ده چې ورته پام وکړي او د خلکو (ملت) روحي او رواني حال ته پام وکړي، حساسيت او احساسات را ونه پاروي. البته خلک خو ورسره جګړه او جنګ نکوي ځکه چې نظاميان له جنګ څخه ستړې وو جنګ يې ونکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او عام خلک خو ډېر زیات له جنګ او جګړې څخه ستړي دي له دوی څخه به ناهیلي شي او ټول خلک به ورته هیواد پرېږدي لکه اوس چې یو شمیر خلک د



کابل هوایي ډګر څخه غواړي لاړشي یا هم لکه د لومړۍ دورې په څېر یې، بیا به دوی په ځان یوازې او ځان ځاني حکومت به کوي او بس. که د طالبانو ډله شتون ولري او که یې ونه لري د افغانستان ټول خلک مخکې هم مسلمانان وو، مسلمانان دي او مسلمانان به وي پدې باندې باید دوی پوه شي. د طالبانو ډله یا اسلامي امارت د افغانستان خلکو (ملت) د ژوند بیلا بیلو ارزښتونو ته باید درناوی وکړي که یې ونکړي د دوی خپلې مخکینۍ دورې او د ډاکټر اشرف غني د دولت



په څېر چې خلکو (ملت) ځانونه ترې جلا ګڼل د دوی څخه به هم خلک (ملت) جلا شي. د افغانستان ملی بیرغ ته چې په رنګونو کې یې د افغانستان تاریخ، نښې نښانې پرتې دي، اسلامي نښې نښانې هم پکې شته دي او په نړۍ کې زمونږ د هیواد د پیژندنې نښه هم ده؛ هغه ته هم باید درناوی وکړي او له مینځه یې ونیسي. د یو چا څخه مې واورېدل چې د کابل - جلال آباد په لاره کې په یو ځای کې د طالبانو د ډلې غړیو د افغانستان ملي بیرغ یې را ښکته کاوه څو الوتونکو مرغانو نه پریښودل چې را ښکته یې کړي. د طالبانو ډلې یا اسلامي امارت ته د ټول افغانستان واک پاتې دی نو اوس یې وار دی چې ثابته کړي څنګه د افغانستان خلکو(ملت) ته د ژوند په هره برخه کې د خلکو په مرسته یو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمتونه وړاندې کوي؟ هر څه په جنګ او جګړې نه کیږي، جنګ، جګړه او ورانی پیل او ترسره کول یې آسانه ده خو پایلې یې ډیرې لویې او قیمت یې ډیر ګران دی. په حکومتولۍ کې سیاسې، اقتصادي، مالي، فرهنګي، نظامي، بانکوالي (بانکداري)، کورنۍ او بهرنۍ اړیکي او ډیر نور شیان شامل دي. وبه لیدل شي چې د طالبانو ډله یا اسلامي امارت به پدې برخو کې څه وکړي؟ د طالبانو د ډلې یا اسلامي امارت هر ویاند او غړي یې چه تر اوسه خبرې کوي او خبرې یې کړي دي، ښې خبرې کوي: د امنیت، د رسنیو په برخه کې، د کابل ښاریانو او د افغانستان خلکو سره یې چلند ښه دی. یوه ستونزه چې د خلکو ورته پام شوی دی هغه دا ده چې د طالبانو د ډلې یا اسلامي امارت غړي په هر ډول جامه او لباس کې دي، هر ډول موټرو کې دي، د اوردو، پولیسو، امنیت او د ډول ډول وسلو سره دي نه پیژندل کیږي چې په رښتیا سره دوی د طالبانو د ډلې یا اسلامي امارت غړي دي که نه دي؟ خلک ویره لري او ډیر اټیلوال (دوکان لرونکي)، مارکیټونه او بازارونه له همدې امله نه پرانیستل کیږي داسې ګمان کیږي چې دا غیر مسئووله وسله وال یا غلِه نه وي. هیله ده چې د طالبانو ډله یا اسلامي امارت د خپلو غړیو لپاره یوه جامه او لباس چمتو کړي چې د غیر مسئووله وسله والو او غلُو څخه یې توپیر وشي. شته




بیلابیلې جامې او لباس د طالبانو او د ډول ډول وسلو سره تګ راتګ؛ دا یې هم د خلکو تر مینځ د ویرې لامل شوی دی. طالبانو یا د اسلامي امارت غړیو چې لومړنۍ تصویري ویډیو له ارګ څخه ډکه کړې وه او الجزیرې ټلویزیون ته یې سپارلې وه هغه د ټولې نړۍ خلکو ولیدله په هغې کې د دوی غړیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیرو زیاتو وسلو سره هغه ډکه کړې وه خبرې یې هغې کې سمې وې او د افغانستان خلکو ته عادي وه خو نړیوالو ته به عادي نه وه. د دوی دې ویډیو د داعش غړیو به چې د چا سر غوڅاوه او ویډیو به یې ترې اخیستې وه د هغې سره یې ډیر ورته والی (شباهت) درلود. هیله ده دې ته پام وکړي او رسنیز اخلاق او د خپلو اعمالو په ترسره کولو کې د افغانستان د خلکو وضعیت هم په پام کې باید ونیسي. په سیاسي برخه کې د طالبانو ډله یا اسلامي امارت یو څه ژر ګامونه واخلي خپل مشر، د دولت رهبر او د خپل د دولت غړي وټاکي، پخوا به دوه سره حکومت وو اوس بې سره حکومت ده. یو شمیر خائنې سیاسي څیرې چې د افغانستان په هر ناورین کې دوی لاس درلود او د افغانستان د خلکو (ملت) سره یې ډول ډول خیانتونه کړي دي. یو ځل بیا د دوه مخې، چالباز او منافق هیواد (پاکستان) ته تللي دي یا د



هغوی له خوا غوښتل شوي دي ترڅو بیا د طالبانو یا اسلامي امارت په حکومت کې هم شامل شي. دوی په وار وار خپل آزموینه ورکړې ده په افغانستان کې. د دې پر ځای چې دا خلک شامل شي د طالبانو یا اسلامي امارت غړي باید د دې خلکو قومونو او ولایتونو څخه دې یو ځل لیدنه وکړي چې دوی څومره ځای هلته پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري. دا به ورته مالومه شي او دا خلک باید شامل نکړي. که چیرې غوارې د دې خلکو قومونو او ولایتونو څخه د دوی په پرتله پکې ډیر ښه خلک شتون لري کولای شي د هغو څخه یې وټاکي او په خپل حکومت کې یې شامل کړي. تر دې ځایه چې معلومیږي لکه طالبان یا اسلامي امارت چې هیڅ پلان او استراتیژي یې د حکومت کولو او جوړولو لپاره نه درلوده وروسته لدې لګیا دي. ډیر ژر به پریکړه او قضاوت نکوو هیله ده چې هر پلان، استراتیژي او نظام چې جوړوي د دوی خپل وي او په خپلواکۍ سره وي، د پاکستان، ایران، چین، روسیې او یا استخباراتي نه وي. لکه څنګه چې وایي اسلامي قوي نظام جوړول غوارې همداسې وي او د افغانستان د خلکو غوښتنې او د ژوند بیلا بیلې برخې هم پکې په پام کې ونیول شي. په پای کې باید ووایم چې د الله (ج) څخه شکرګذاره یو چې د افغانستان د نظام په بدلون کې مرګ ژوبله او وژنه ونه شوه؛ کاشکې چې څو کاله مخکې سوله او جوړجاړې شوی وای تر څو د زرګونو افغانانو د مرګ ژوبلې او وژنو څخه مخنیوی شوی وای. اوس چې وشو دا هم ښه کار وشو. دا چې د افغانستان دولت هر څه یې طالبانو بې له کومې جګړې وسپارل ښه یې وکړل. طالبانو په کلونو کلونو دا غوښتل چې حکومت وکړي اوس یې لاس کې ده نو خپله آزموینه او آزمایښت به ورکړي د افغانستان خلک (ملت) او د نړۍ ټول خلک به وګوري چې دوی څه کوي؟

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یادَونه:**

د کتابتون پرلیکه (آنلاین) کتابخانې یا کتابتون د اداره کوونکو څخه ډېره زیاته مننه چې داسې یوه ویب پاڼه (ویب سایټ) جوړ کړی ده چې د کتاب لوستونکو او مطالعې مینه والو ته ډول ډول کتابونه برابروي تر څو ورڅخه ګټه واخلي.

ډېر ژر به زما یو کتاب **(د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس پټ رازونه)** په نوم به له همدې ویب پاڼې (ketabton.com) څخه په پښتو ژبه به خپور شي. که په دري یا فارسي ژبه دا کتاب غواړی ولولئ او مطالعه یې کړئ نو سعید انتشارات و کې چاپ شوې کاپې یې شتون لري نو کولای شئ ورڅخه یې تر لاسه کړئ. د فیسبوک پاڼه یې www.facebook.com/intisharatsaeed ده لا زیاتو معلوماتو لپاره یو ځل لیدنه ور څخه وکړئ او که دا کتاب غواړئ وګورئ او ترلاسه یې کړئ.

**څوک چې د کتاب په څېر دا مقاله لولي د ژوند په ټولو چارو کې بریالي اوسئ ډېره زیاته مننه!**

**د ښه راتلونکي په هیله!**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**